Central Asia-Caucasus Analyst: https://www.cacianalyst.org/publications/analytical-articles/item/13850-the-new-russia-iran-treaty-implications-for-the-south-caucasus-region.html

41. Visoka, G. (2022). Statehood and Recognition in World Politics: Towards a Critical Research Agenda. *Cooperation and Conflict, 57*(2), 133-151.

42. Wani, A., & Parnerkar, A. (2024, August 12). *Taliban's diplomatic advances in Central Asia*. Retrieved from Observer Research Foundation: https://www.orfonline.org/expert-speak/taliban-s-diplomatic-advances-in-central-asia

43. Weinbaum, M. G. (2021). Afghanistan and the great powers in regional geopolitics, economics and security. In M. G. Weinbaum, *The Great Power Competition Volume 1: Regional Perspectives on Peace and Security* (pp. 413-430). Cham: Springer International Publishing.

44. Yawar, M. E. (2024). Afghanistan's Geopolitical Developments and Foreign Policy. *Law and Humanities Quarterly Reviews, 3*(1), 14-26.

45. Zeng, L. (2020). Status and Application of Good Faith in International Law. In L. Zeng, *Contemporary International Law and China's Peaceful Development* (pp. 65-80). Singapore: Springer.

❖❖❖

## پر بهرني سياست اغېز لرونكي لاملونه: د اسلامي امارت په اړه تطبيقي څېړنه


څېړنوال عبدالصبور مبارز*



***لنډیز***

*دا څېړنه د افغانستان اسلامي امارت پر بهرني سياست اغېز لرونكو كورنيو او بهرنيو لاملونو تمركز كوي. د سيمې جيوپولټيكي وضعيت، كورني شرايط او نړيوال فشارونه د اسلامي امارت د بهرني سياست پر بڼه محدوديتونه لګوي. له دې كبله د دې څېړنې اساسي پوښتنه دا ده چې د افغانستان اسلامي امارت اوسنی بهرنی سياست د كومو كورنيو او بهرنيو لاملونو تر اغېز لاندې رامنځته شوی دی. څېړنه د توصيفي- تحليلي مېتود او كتابتوني سرچينو پر بنسټ ترسره شوې او د نړيوالو اړيكو د نيوكلاسيک رياليزم تيوری په چوكاټ كې تحليل او ارزول شوې ده. د مقالې پايلې ښيي چې د نړيوال نظام جوړښت، كلهوالي او ناڅاپي سياسي پېښې او د افغانستان جغرافيايي موقعيت، طبيعي سرچينې او عامه افكار د اسلامي امارت پر بهرني سياست ژور اغېز ښندلی. څېړنه څرګندوي چې اسلامي امارت هڅه كوي د كورنيو اړتياوو او نړيوالو فشارونو ترمنځ متوازنه تګلاره د ملي ګټو د خونديتوب او د سيمه‌ييز ثبات د ټينګښت لپاره پلې كړي.*



***كليدي كلمې:*** *اسلامي امارت، بهرنی سياست، كورني او بهرني لاملونه، نړيوال نظام، جغرافيايي موقعيت، عامه افكار.*


---


* د افغانستان د علومو اكاډمی د سيمه‌ييزو مطالعاتو مركز علمي غړی

## سریزه

په اوولسمه میلادي پیړۍ کې د وستفالیې سولې له تړون وروسته د خپلواکو ملي دولتونو نظریه رامنځته شوه او له لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې وروسته ګڼو دولتونو له استعمار څخه خپلواکي واخیسته چې له امله یې په نړیوال نظام او د دولتونو ترمنځ اړیکو کې ستر بدلون رامنځته شو. د ملګرو ملتونو په رامنځته کېدو سره حاکم خپلواک دولتونه د دغه سازمان غړي شول او د دولتونو ترمنځ خپلمنځي اړیکو په پراخه کچه پرمختګ وکړ. له بله پلوه، یو دولت نه شي کولای په یوازې ځان خپلې اړتیاوې پوره کړي، بلکې اړ دی چې له نورو دولتونو سره اړیکې ټینګې کړي. د دغو اړیکو د ټینګولو وسیله بهرنی سیاست دی. بهرنی سیاست هغه چوکاټ دی چې د یوه دولت اړیکې له بل دولت سره تنظیموي.

د دولتونو بهرنی سیاست د ملي ګټو په چوکاټ کې جوړیږي او له دې جوتیږي چې داخلي سیاست هم له بهرني سیاست سره نږدې اړیکه لري. بهرنی سیاست له داخلي او بهرني چاپیریال څخه اغېزمنیږي. د دولتونو بهرني سیاستونه د بېلابېلو عواملو تر اغېز لاندې جوړیږي او یا بدلیږي. د دې ترڅنګ، ډېری وختونه یو دولت د بل دولت په اړه خپل بهرنی سیاست تنظیموي او غواړي هغه پلی کړي، خو د ځینو داخلي او بهرنیو لاملونو پر بنسټ اړ کېږي چې خپل دغه سیاست بدل کړي او هماغو لاملونو ته تسلیم شي. له همدې ځایه پوهېږو چې د دولتونو بهرنی سیاست تل د کورنیو او بهرنیو لاملونو له محدودیت سره مخ وي.

له ۲۰۲۱ز. کال راوروسته کله چې اسلامي امارت پر افغانستان واکمن شوی خپل بهرنی سیاست یې اقتصاد محوره او متوازن اعلان کړی. که څه هم ځینو وروستیو تحولاتو ته په کتلو داسې برېښي چې اسلامي امارت د متوازن بهرني سیاست په عملي کولو کې لا هم له ستونزو سره مخ دی، چې د هند او پاکستان ترمنځ د تعامل توازن یې د بېلګې په توګه

يادولی شو. که موږ ځیر شو، د افغانستان اسلامي امارت اوسنی بهرنی سياست د نړيوالو سياسي فشارونو، د سيمې او نړۍ جيوپولټيکي شرايطو او له ځينو ګاونډيو هېوادونو سره د خرابو سياسي اړيکو له امله له ګڼو محدوديتونو سره مخ دی. دا چې دغه کورني او بهرني محدوديتونه او عوامل څه دي، په دقيق ډول څېړلو او سپړلو ته اړتيا لري.

په دې توګه د دې څېړنې موخه پر بهرني سياست د اغېز لرونکو لاملونو تحليل او د دغو لاملونو په چوکاټ کې د اسلامي امارت د بهرني سياست د قضيې څېړنه ده. د څېړنې اساسي پوښتنه دا ده چې پر بهرني سياست اغېز لرونکي لاملونه کوم دي او د اسلامي امارت بهرنی سياست له کومو لاملونو اغېزمن دی؟ د دغې پوښتنې د ځوابولو لپاره د څېړنې له توصيفي-تحليلي مېتود او کتابتوني ډول څخه ګټه اخيستل شوې ده. لومړی پر بهرني سياست اغېز لرونکو داخلي او بهرنيو لاملونو په اړه له اړوندو سرچينو معلومات راټول شوي او بيا يې له ارزونې او تحليل وروسته د اسلامي امارت له اوسنۍ بهرنۍ تګلارې سره پرتلنه شوې او وروسته يې پايلې په منظم ډول تحليل شوې دي.

د څېړنې جوړښت داسې دی چې له سريزې وروسته، لومړی پر بهرني سياست اغېز لرونکي داخلي او بهرني لاملونه څېړل شوي او بيا د همدغو لاملونو په چوکاټ کې د اسلامي امارت په اړه تطبيقي ارزونه ترسره شوې او د پايلې، وړانديزونو او مأخذونو په راوړلو سره مقاله پای ته رسېدلې ده.

## ۱. د څېړنې تيوريکي چوکاټ

پر بهرني سياست د کورنيو او بهرنيو لاملونو د اغېزو د ښه پوهېدو لپاره په دې څېړنه کې د نيوکلاسيک رياليزم[1] له تيورۍ څخه ګټه اخيستل شوې ده. نيوکلاسيک رياليزم له کلاسيک رياليزم او نيورياليزم څخه تشکيل شوې يوه تيوري ده.

---

[1]. Neoclassical Realism

هانس مورگنتاو[1] او اډوارډ هالت کار[2] د کلاسیک ریالېزم دوه مهم مخکښان دي. دوی په نړیوالو اړیکو کې د اخلاقو، نورمونو، رواجونو او اصولو ارزښت ته قایل نه دي. کلاسیک ریالېزم د ځواک لپاره هڅه او د نورو خلکو د محکومولو انساني فطرت خاصه، مقابله، ډار او جګړه د دولتونو د چلند لامل ګڼي.

نیوریالېزم (یا جوړښتي ریالېزم) تیوري بیا په ۱۹۷۹ز. کال کې کېنت والتز وړاندې کړه. د دې تیورۍ پر بنسټ په نړیوال نظام کې انارشي ده، یعنې په نړیواله سطحه داسې یو واحد دولت یا قدرت نشته چې هغه پر ټولو دولتونو حاکم وي او دولتونه پر یو او بل له تېري او برید څخه وژغوري. نو په داسې یوه نړیوال نظام کې هر دولت له خپل ځان څخه د دفاع مسؤولیت لري او د همدغې دفاع لپاره دولتونه د قدرت د زیاتولو او قدرتمند کېدلو لپاره له هر ډول وسایلو څخه کار اخلي ترڅو خپل دښمن او سیال یا وځپي او یا هم له هغه څخه د ځان دفاع وکړي (Mearsheimer, 2007, P. 72- 73). یعنې دا چې نیوریالېزم د یوه دولت پر بهرني سیاست یا پرېکړو د نړیوال نظام اغېزې مني.

نیوکلاسیک ریالېزم د یوه دولت پر بهرني سیاست د بهرنیو لاملونو ترڅنګ کورنیو لاملونو ته هم ارزښت ورکوي. دغه تیوري وایي چې د دولتونو د چلند د دقیق تحلیل لپاره باید له نړیوال نظام سره یو ځای ځینو کورنیو لاملونو ته هم پام وشي؛ لکه د دولت د مشرانو ادراک یا تصور، د دولت او ټولنې ترمنځ اړیکې، د نظام بڼه او داسې نور.

نیوکلاسیک ریالېزم د هېوادونو د اړیکو په اړه لیبرال او ریالیستي تیورۍ ننګوي. لیبرال تیوري ځکه ننګوي، چې یوازې د هېوادونو کورنیو لاملونو ته لومړیتوب ورکوي؛ او ریالیستي تیوري ځکه ننګوي، چې ریالېزم د هېوادونو په چلند کې یوازې نړیوال ډګر او نظام ته لومړیتوب ورکوي. د ریالیستي او لیبرال تیوریو برعکس،

---

[1] Hans J. Morgenthau
[2] E. H. Carr

نیوکلاسیک ماډل یو منځلاری دریځ غوره کوي، دا تیوري نړیوال نظام او کورني لاملونه د هېوادونو د بهرنیو تګلارو او سیاستونو په جوړښت کې مهم ګڼي.

دا چې په دې څېړنه کې پر بهرني سیاست د کورنیو او بهرنیو دواړو لاملونو اغېزې روښانه شوې دي، نو له همدې امله د نیوکلاسیک ریالېزم تیوري د دې څېړنې د تیوریکي چوکاټ په توګه ټاکل شوې ده.

### ۲. د بهرني سیاست پېژندنه

بهرني سیاست د تاریخ په اوږدو کې د نړیوال نظام او د لوبغاړو د پرمختګ او چلند له توپیر سره بدلون موندلی دی. کله چې لومړني تمدنونه او امپراتورۍ رامنځته شوې او له یو او بل سره یې تعامل او اړیکې پیل کړې له هماغه راهیسې د بهرني سیاست لومړني ډولونه لکه: اتحادونه، تړونونه، جګړه او سوله، رامنځته شوي دي (O.P. Jindal Global University, 2024). د جوسف فرنکېل[1] په نظر، بهرنی سیاست د بل دولت په مقابل کې د یوه دولت پرېکړې او اعمال دي. د پاډیلفورډ او لېنکولن[2] له نظره، بهرنی سیاست د یوه دولت معاملات او اړیکې له بهرني چاپیریال سره تنظیموي. هېوج ګېبسنس[3] له نظره، بهرنی سیاست یو منظم پلان دی چې د پوهې او تجربې پر بنسټ ترتیبیږي ترڅو د دولت اړیکې له نورې نړۍ سره تنظیم کړي (Bojang As, 2018, P. 2). که یو دولت بهرنی سیاست ونه لري، مثال یې هغې کښتۍ ته ورته دی چې د سمندر په منځ کې روانه وي، خو منزل یې ناڅرګند وي.

بهرنی سیاست تل یو ډول نه وي، بلکې د حالاتو او شرایطو سره سم خپله بڼه بدلوي. په عمومي ډول کولای شو چې بهرنی سیاست په نرم[4] او سخت[5] باندې وویشو. سخت

---

[1] Joseph Frankel
[2] Padelford and Lincoln
[3] Huge Gibson's
[4] Soft foreign policy
[5] Hard foreign policy

بهرنی سیاست هغه دی چې له لارې يې يو دولت د بل دولت په مقابل کې ځواک او يا هم د ځواک گواښ کاروي، لکه: پوځي مداخلې، اقتصادي بنديزونه، اتومي ډيټيرينس او داسې نور، ترڅو د دې ځواک کارونې له لارې خپلې ملي گټې او موخې لاسته راوړي. نرم بهرنی سیاست هغه دی چې په هغې کې د کلتوري تبادلو، بشري مرستو، رسنيزو تبليغاتو او عامه ډيپلوماسی له لارې ملي گټې او موخې لاسته راوړل کېږي (O.P. Jindal Global University, 2024). د دې ترڅنگ، بهرنی سیاست ثابت نه بلکې انعطاف پذير دی، ځکه په نړيوالو اړيکو کې همېشنی دښمن او همېشنی دوست نشته. دې قاعدې ته په کتلو بهرنی سیاست هم بدلېدای شي. همدارنگه بهرنی سیاست له متقابل تعامل څخه هم اغېزمنېدای شي، په دې معنا چې کېدای شي الف دولت د ب دولت په مقابل کې مثبت بهرنی سیاست ولري، خو ب دولت داسې منفي کړنې ترسره کوي چې د الف دولت پر بهرني سیاست اغېزه کوي او اړ کېږي چې خپل بهرنی سیاست بدل کړي. لنډه دا چې بهرنی سیاست د يوه دولت پرېکړې، تعامل او اړيکې د بل دولت په مقابل کې روښانه کوي.

## ۳. پر بهرني سياست اغېز لرونکي لاملونه

په بهرني سياست کې د تصميم نيونې پرمهال بېلابېل لاملونه رول او اغېز لري او دولتونه نه شي کولای چې دغه لاملونه په اسانی سره له پامه وغورځوي. دا لاملونه په دوه ډوله دي چې يو يې بهرني او بل يې داخلي دي (Nabin Khara, 2018, P. 112)، چې په لاندې برخو کې په تفصيل سره بيان شوي دي.

### ۳,۱. بهرني لاملونه

د يوه دولت پر بهرني سياست ځينې بهرني لاملونه اغېزه لري چې له امله يې هغه دولت اړ کېږي څو خپل بهرنی سياست د هماغو لاملونو تر اغېزې لاندې تنظيم کړي، دغه بهرني لاملونه په لاندې ډول دي:

### ۳,۱,۱. نړیوال نظام

په نړیوال نظام کې ګڼ شمېر پېښې، تعاملات، جګړې او اختلافات د دولتونو پر بهرني سياست اغېزه کوي. اکثره وخت د یو دولت بهرنی سیاست د نړیوال نظام او چاپیریال محصول وي. د ریالیستانو په اند نړیوال نظام کې انارشي ده یعنې په نړیواله کچه داسې یو واحد دولت یا قدرت نشته چې هغه پر ټولو دولتونو حاکم وي او دولتونه پر یو او بل له تیري او برید څخه وژغوري، نو په داسې یو نړیوال نظام کې هر دولت د خپل ځان څخه د دفاع مسؤلیت لري او د همدغې دفاع لپاره دولتونه د قدرت د زیاتولو او قدرتمند کېدلو لپاره له هر ډول وسایلو څخه کار اخلي ترڅو خپل دښمن او سیال یا وځپي او یا هم له هغه څخه د ځان دفاع وکړي( Mearsheimer, 2007, P. 72- 73 ). د نړیوال نظام دغه ډول د دولتونو پر بهرني سياست اغېزه لري، د بېلګې په توګه، د دوو نړیوالو جګړو ترمنځ (۱۹۱۹–۱۹۳۹) په ایټالیا کې د فاشیستي جریان راپورته کېدل، په جرمني کې د نازیزم ظهور او په جاپان کې د پوځي حکومت رامنځته کېدل، فرانسه دې ته اړ کړه چې د ځان د دفاع لپاره دفاعي بهرنی سیاست غوره کړي. همدارنګه په جرمني کې د هټلر راپورته کېدو امریکا متحده ایالات اړ کړه ترڅو د شوروي اتحاد په مقابل کې خپل بهرنی سیاست بدل کړي. همدارنګه په ۱۹۳۱ز. کال کې پر منچوریا د جاپان برید، متحده ایالات او شوروي اتحاد اړ کړل ترڅو د یو او بل په مقابل کې بهرنی سیاست نرم کړي او دښمني غاړې ته کړي(Balkhi, 2017, P. 35). لنډه دا چې په نړیوال نظام کې ترسره کېدونکې پېښې او تعاملات پر بهرني سياست اغېزه لري.

### ۳,۱,۲. کډوالي

کډوالي هم د یوه دولت پر بهرني سياست اغېزه لري. د مایکل ټایټلباوم په وینا، کډوال لېږونکي او کډوال قبلوونکي دواړه دولتونه په بهرني سياست کې کډوالي د یوه مهم محرک په توګه تعریفوي (Michael S. Teitelbaum, 1984, P. 437). په دې معنا،

کوم دولتونه چې کډوال قبلوونکي دي هغوی په بهرني سیاست کې له کډوالو څخه د یوې وسیلې په توګه ګټه اخلي او هغه دولتونه چې کډوال لېږونکي دي هغوی د کډوال قبلوونکي هېواد په مقابل کې داسې بهرنی سیاست ترتیبوي چې هغوی له کډوالو څخه د فشار آلې په توګه ګټه وانخلي او ښې اړیکې ورسره ولري.

### ۳,۱,۳. نړیوال حقوق

هغه حقوق یا قواعد دي چې د دولتونو ترمنځ اړیکې تنظیموي (Bojang, 2018). د نړۍ دولتونه مکلف دي چې نړیوال حقوق یا قواعد تطبیق او د همدغو قواعدو په رڼا کې خپل بهرنی سیاست تنظیم کړي چې دا خپله پر بهرني سیاست د نړیوالو حقوقو اغېزه ده. په دې معنا، چې که یو دولت د بل دولت په مقابل کې داسې بهرنی سیاست تنظیم کړي چې پر هغه دولت د بېلګې په توګه اوبه بندې کړي، نو دا ډول بهرنی سیاست له نړیوالو حقوقو سره په ټکر کې دی، ځکه د اوبو نړیوال حقوق د اوبو د تنظیم لپاره مشخص قواعد لري او یو دولت نه شي کولای په یوازې ځان پر یو بل دولت ټولې اوبې بندې کړي، نو دلته دولتونه مکلف دي چې خپل بهرني سیاستونه له نړیوالو حقوقو سره برابر کړي او په دې توګه نړیوال حقوق د دولتونو پر بهرني سیاست خپل اغېز لري.

### ۳,۱,۴. نړیوال سازمانونه

په نړۍ کې نږدې ٦۸۰۰۰ نړیوال سازمانونه موجود دي[1] (Bojang, 2018). په نړیوالو او سیمه‌ییزو سازمانونو کې د دولتونو ګډون په دې معنا دی چې د دغو سازمانونو ټول شرطونه او قواعد به مني او هغه به تطبیقوي. همدارنګه خپل بهرنی سیاست به هم داسې تنظیموي چې د اړوند نړیوال سازمان له شرطونو او قواعدو سره په ټکر کې نه وي، چې دا د یوه دولت پر بهرني سیاست د نړیوال سازمان اغېزه روښانوي. په دغه ډول سازمانونو کې یې ځینې ډېر ځواکمن او اغېزناک دي، لکه ملګري ملتونه، د پیسو

[1] په دې کې فعال او غیرفعال ټول سازمانونه شامل دي.

نړیوال صندوق او نړیوال بانک.

### ۳,۱,۵. نړیوال ایتلافونه

کله چې دولتونه له یوه نړیوال ایتلاف سره یوځای کېږي، نو غړي يې اړ دي چې د ایتلاف منشور ومني او تطبيق يې کړي. د بېلګې په ډول، که یو دولت د ناټو نظامي ایتلاف غړی شي او ناټو پر یوه هېواد د برید پرېکړه وکړي، نو غړي هېوادونه اړ دي چې خپل بهرنی سیاست داسې تنظیم کړي چې له یوې خوا د ناټو برید تایید کړي او له بلې خوا د ناټو په ماموریت کې خپل پوځیان هغه هېواد ته ولېږي، چې دا په ښکاره د غړي دولت پر بهرني سیاست د ایتلاف اغېزه روښانوي. د نظامي ایتلافونو په اړه څو ډوله نظریې موجودې دي.

**الف-** یو نظر دا دی چې نظامي ایتلاف کولای شي د یوه هېواد امنيتي ستونزې حل او هېواد د ثبات لوري ته یوسي.

**ب-** بل نظر دا دی چې کېدای شي همدا نظامي ایتلاف یو هېواد د ناامنۍ او جنګ لوري ته یوسي. د بېلګې په ډول: که نظامي ایتلاف پر یوه هېواد د برید پرېکړه کوي، نو غړي هېوادونه مکلف دي چې په جګړه کې برخه واخلي.

**ج-** نظامي ایتلاف د وسلو سیالۍ ته او د وسلو سیالي بیا جنګ ته لار پرانیزي، د بېلګې په ډول: د روسیې، سربيا او جرمني او د اسټریا-هنګري نظامي ایتلاف د لومړۍ نړیوالې جګړې لامل شو.

**د-** بل نظر دا دی چې نظامي ایتلاف د قواوو د توازن[1] په موخه ترسره کېږي، یعنې کله چې یو ځواکمن هېواد پر یو کمزوري هېواد برید وکړي، نو کمزوری هېواد د خپلې دفاع په موخه اړ دی چې د یو بل ځواکمن هېواد سره نظامي ایتلاف وکړي ترڅو له برید کوونکي هېواد سره يې د قدرت توازن برابر او له ځان څخه دفاع وکړي، د بېلګې په ډول

[1] Balance of Power

کمزوري هېوادونه به د هټلر او ناپيلون د ظلمونو څخه د بچ کېدو په موخه د هغوی له مخالفينو سره په ايتلاف کې يوځای کېدل (Mintz and Derouen, 2010, P. 126).

د نيويارک پوهنتون د سياسي علومو استاد او څېړونکی «Bruce Bueno de Mesquita» نظامي ايتلافونه په درېيو برخو ويشي:

**الف- بې‌طرفه نظامي ايتلاف:** هغه ايتلاف دی چې پکې دوه يا څو دولتونه هوکړه کوي، چې که په غړو هېوادونو د نورو هېوادونو له خوا بريد وشي، نو دوی به له هغوی سره مرسته نه کوي، په جګړه کې به ورسره برخه نه اخلي او بې‌طرفه به پاتې کېږي.

**ب- مشورتي نظامي ايتلاف:** هغه ايتلاف دی چې په کې د تړون لوري هوکړه کوي، چې که د تړون پر غړو هېوادونو د نورو هېوادونو له خوا بريد وشي، نو دوی به له يو بل سره د جګړې په اړه مشورې شريکوي. د دې ډول ايتلاف ښه بېلګه په لومړۍ نړيواله جګړه کې د روسيې، برتانيې، فرانسې او امريکا متحده ايالاتو ايتلافي تړون دی.

**ج- دفاعي نظامي ايتلاف:** په دې ډول ايتلاف کې غړي هېوادونه هوکړه کوي چې، که د تړون پر غړو هېوادونو د نورو هېوادونو له خوا بريد وشي، نو دوي به يې ملاتړ او دفاع کوي. ښه بېلګه يې د ناټو نظامي ايتلاف دی (Bueno de Mesquita, 2003, Pp. 489-490).

په دې توګه، نړيوال ايتلافونه که هغه نظامي وي او که اقتصادي، د غړو دولتونو پر بهرنيو سياستونو اغېزه لري.

### ۳،۱،۶. ناڅاپي ستراتيژيکې پېښې

پوځي تاريخپوه جان لويس ګيډيس[1] ناڅاپي ستراتيژيکې پېښې داسې تعريفوي: په غيرمتوقع ډول، په غيرمتوقع وخت کې پر غير متوقع هدف باندې د زور يا قدرت استعمال ته ناڅاپي ستراتيژيکې پېښې ويل کېږي (Gaddis, 2002). ناڅاپي پېښې هم د يوه دولت پر بهرني سياست اغېزه لري. دغه ډول پېښې کولی شي د بهرني سياست په

[1] John Lewis Gaddis

پرېکړو کې د وخت فشار، رواني فشار او د معلوماتو د کموالي او پېچلتيا له امله ستونزې رامنځته کړي.

په ۲۰۰۱ز.کال کې پر افغانستان د متحده ايالاتو بريد، په ۱۹۹۰ز.کال کې پر کويټ د عراق بريد، په ۲۰۰۳ز.کال کې پر عراق د متحده ايالاتو بريد، د سپتمبر يوولسمه او دې ته ورته نورې پېښې ناڅاپي ستراتيژيکې پېښې ګڼل کېداى شي، ځکه له امله يې د دولتونو پر بهرني سياست اغېز رامنځته کېږي (Mintz and Derouen, 2010, P. 125). د بېلګې په توګه، د سپتمبر د يوولسمې پېښې وروسته متحده ايالاتو په ناڅاپي ډول خپل بهرنی سياست بدل کړ او پر افغانستان يې بريد وکړ، نو معلومېږي چې ناڅاپي پېښې هم د دولتونو پر بهرني سياست اغېزه لري او پکې د بدلون لامل کېداى شي.

**۳,۲. داخلي لاملونه**

داخلي عوامل هم د يوه دولت پر بهرني سياست ښکاره اغېزې ښندي، چې مهم يې په لاندې ډول دي:

**۳,۲,۱. قلمرو او نفوس**

د يوه هېواد قلمرو او نفوس پر خپل وار پر بهرني سياست اغېزې لري، د بېلګې په ډول، هغه هېوادونه چې نفوس او مساحت يې کم وي هڅه نه کوي چې په نړيوالو شخړو او معاملو کې ډېر ښکېل شي، نو ځکه يو محافظه‌کارانه بهرنی سياست تنظيموي، لکه ګامبيا، بينن، بروني، قرغيزستان او نور... همدارنګه هغه هېوادونه چې نفوس او مساحت يې ډېر وي، هغوی تل په نړيوالو مسايلو کې ښکېل وي او يرغليز بهرنی سياست ترتيبوي، لکه: د امريکا متحده ايالات، روسيه او چين. که څه هم دا عامل مطلق نه دی او استثناوې لري، ځکه د بېلګې په توګه د شمالي کوريا او اسراييلو نفوس او مساحت کم دی، خو بيا هم يرغليز بهرنی سياست لري او له لويو قدرتونو سره د ټکر هڅه کوي. همدارنګه د استراليا، کاناډا او برازيل نفوس او مساحت ډېر دی، خو بهرنی سياست يې

محافظه‌کارانه دی او په نړیوالو مسایلو کې ډېر دخیل نه دي.

د دې ترڅنګ که د یوه هېواد قلمرو په غرونو او سیندونو پوښل شوی وي، پر هغوی برید کول او اشغالول یې ستونزمن دي، چې دا له امنیتي اړخه پر بهرني سیاست اغېزه لري. همدارنګه په یوه قلمرو کې د هوا حالت پر کرنه، اقتصاد او کډوالۍ اغېزې لري او دا بیا په خپل وار سره پر بهرني سیاست اغېزه لري (Biswas, 2025).

لنډه دا چې د یوه هېواد د قلمرو پراخوالی پر اقتصاد، دفاعي ځواک، حکومتدارۍ او نورو اړخونو اغېزې لري (Alesina, 2003, Pp. 303-304) او دا بیا په خپل وار سره پر بهرني سیاست اغېزې ښندي.

### ۳,۲,۲. جغرافیایي موقعیت

جغرافیایي موقعیت هم پر بهرني سیاست اغېزه لري. جغرافیایي موقعیت له نورو دولتونو سره د یو دولت پر تعامل، قناعت ورکولو، ګټه لاسته راوړلو، چانه وهلو، سولې او جګړې اغېزه لري. پر یوې ښې ستراتیژیکې سیمې د یوه دولت کنټرول یو امتیاز دی چې نور دولتونه دې ته اړ کوي چې ښه تعامل ورسره وکړي او له تقابل څخه ورسره ځان وساتي. د لویو قدرتونو او کوچنیو دولتونو په څنګ کې موقعیت هم د بهرنۍ پالیسۍ لپاره ځانګړې پایلې او اغېزې لري (رحیمي، ۱۳۹٦، ۹۷). لنډه دا چې جغرافیایي موقعیت د یوه دولت پر بهرني سیاست مستقیمه اغېزه لري.

### ۳,۲,۳. اقتصادي پرمختګ او طبیعي سرچینې

هغه هېوادونه چې له اقتصادي پلوه قوي او پراخې طبیعي زېرمې لري، د هغوی بهرنی سیاست فعال او په نړیوال سیاست کې مطرح وي، لکه د امریکا متحده ایالات، روسیه، جرمني او فرانسه او هغه هېوادونه چې اقتصاد یې کمزوری او طبیعي زېرمې یې کمې وي، په نړیوال سیاست کې مطرح نه وي، لکه ګامبیا، نیپال، ځینې افریقایي هېوادونه او داسې نور.

### ۳,۲,۴. د رهبر شخصيت او سلوک

د يوه هېواد د رهبر يا ولسمشر شخصيت هم د بهرني سياست پر جوړونه اغېزه لري. د يوې ډلبندۍ له مخې رهبران په دوه ډلو وېشل کېږي:

**الف-** هاواکس[1] رهبران: هغه رهبران دي چې د هغوی شخصيت او طبيعت جدي وي او ډېر ژر غوسه کېږي، نو د دا ډول رهبرانو بهرنی سياست هم يرغليز وي، لکه: هټلر، موسولويني، جورج بوش، ټرمپ او نور.

**ب-** ډوفس[2] رهبران: هغه رهبران دي چې د هغوی شخصيت او طبيعت نرم او ارام وي، نو د دا ډول رهبرانو بهرنی سياست هم محافظه‌کارانه وي، لکه اوباما، امانويل مکرون، جوبايډن او شي جېنپنګ (Bojang, 2018).

### ۳,۲,۵. عامه افکار

عامه افکار هم پر بهرني سياست له اغېز لرونکو لاملونو څخه ګڼل کېږي. د بهرنۍ پاليسۍ جوړوونکي اکثره وخت د هېواد د وګړو عامه افکار د بهرني سياست په تنظيم کې په پام کې نيسي، ځکه په بهرني سياست کې ولسي ملاتړ تر ټولو مهم ارزښت دی. عامه افکار له څو لارو څخه بهرنی سياست اغېزمنوي. د بېلګې په توګه، کله چې يوه ځانګړې بهرنۍ تګلاره پراخ ولسي ملاتړ ولري، نو دا د دولت مشرانو ته جرئت ورکوي چې هغه په لا قوي ډول تعقيب کړي. برعکس، که عامه افکار د يوې تګلارې مخالف وي، نو دا کار د دولت د مشرانو واک محدودوي او هغوی دې ته اړ کوي چې خپله بهرنۍ تګلاره بدله کړي، ځکه ولسي مخالفت داخلي ستونزو او ګډوډيو ته لاره هواروي چې له امله يې د دولت مشر اړ کېږي چې د ولس خبره ومني.

البته يوه خبره د يادولو وړ ده چې د اولی هولستي په وينا: عامه افکار تر ډېره په

---

[1] Hawks
[2] Doves

ډیموکراټیکو نظامونو کې پر بهرني سیاست اغېز لري په غیر ډیموکراټیکو او یا دکتاتورانه نظامونو کې پر بهرني سیاست د عامه افکارو اغېزې کمې وي (Lee, 2025). د یوې موضوع په اړه عامه افکار له بېلابېلو لارو څخه معلومیږي، د بېلگې په ډول: د ټولپوښتنې له لارې، سروې له لارې، د ټولنیزو رسنیو له لارې او داسې نور.

د یادونې وړ ده چې په بهرني سیاست کې د عامه افکارو په پام کې نیول د دوه دلایلو پر بنسټ ځینې ستونزې هم رامنځته کولای شي، لومړی، عامه افکار بې‌ثباته وي او ژر بدلیږي. دویم، عامه افکار تل ژور، دقیق او مستند نه وي، چې دا کار د ناسم یا ساده سیاستونو د رامنځته کېدو احتمال زیاتوي. جورج کینن د دغې ستونزې په اړه وایي چې «عامه افکار د بهرني سیاست لپاره د باور وړ لارښود نه دی، ځکه اکثره وخت احساساتي، غیرمعلوماتي او لنډ لید لرونکي وي(Lee, 2025).

## ۴. د افغانستان اسلامي امارت په اړه تطبیقي څېړنه

پر بهرني سیاست د اغېزه لرونکو لاملونو له مطالعې وروسته، د افغانستان اسلامي امارت پر بهرني سیاست د دغو لاملونو اغېزې څېړو.

### ۴,۱. د افغانستان جغرافیایي موقعیت او د اسلامي امارت پر بهرني سیاست یې اغېزې

افغانستان د اسیا په زړه کې پروت هېواد دی چې له غوره جیوپولټیک، جیواکونومیک او جیوستراتیژیک موقعیت څخه برخمن دی. دغه هېواد د جنوبي اسیا، مرکزي اسیا، منځني ختیځ، چین او روسیې ترمنځ ستراتیژیکه نقطه کې قرار لري چې دغه سیمې او هېوادونه د نړۍ زیات نفوس او غني سرچینې لري (Noorzi, 2021). په دې توگه، افغانستان د سیمې د څلورلارې حیثیت لري چې له یوې خوا لوېدیځه آسیا له ختیځې آسیا سره او له بلې خوا جنوبي اسیا له مرکزي اسیا سره نښلوي.

افغانستان له داسې هېوادونو سره نښلېدلی چې د طبیعي سرچینو او انرژۍ غني زېرمې لري. د دې ترڅنگ، د لاجوردو له لارې افغانستان کولای شي چې له اروپا سره ونښلي.

له امنيتي اړخه هم په داسې سيمه کې پروت دی چې اتومي ځواکونه، لکه: هند، پاکستان، روسیه او چين پکې پراته دي او له امله يې دا سيمه تل د زبرځواکونو د سيالۍ ډگر هم گرځېدلې ده.

همدرانگه د جيوپولټيکي نظریو په چوکاټ کې، هم د هالفورډ مکينډر په تيورۍ کې چې کومه جغرافيه د هارټلنډ په نوم تعريف شوې، افغانستان يې يوه برخه ده او هم د نيکولاس سپايکمن د ريملنډ تعريف شوې جغرافيه کې افغانستان د هغې يوه برخه ده، چې دا په خپله د افغانستان د جيوپوليټيک موقعيت پر اهميت دلالت کوي (طارق، ۱۳۹۹). افغانستان که څه هم په وچه کې راگير هېواد دی او دا يوه کمزورې نکته بلل کېږي؛ خو مرکزي اسيا د انرژۍ پرېمانه سرچينې لري (Javaid & Rashid, 2015, Pp. 143-144) او د جنوبي اسيا هېوادونه په ځانگړي ډول پاکستان او هند د انرژۍ له کمښت سره مخ دي، دغو هېوادونو ته له مرکزي اسيا څخه د انرژۍ د لاسته راوړلو تر ټولو ارزانه او لنډه لاره له افغانستان څخه تېرېږي، نو جنوبي اسيا د مرکزي اسيا د انرژۍ د پلور لپاره يو ښه ماركيټ دی او د جنوبي اسيا د توليداتو لپاره مرکزي اسيا يو ښه مارکيټ دی (Khan, 2017).

د افغانستان همدغه جغرافيايي موقعيت د اسلامي امارت پر بهرني سياست د څو دلايلو پر بنسټ اغېزه کړې ده: **لومړی**، اسلامي امارت خپل بهرنی سياست اقتصاد محوره اعلان کړی چې د دې ډول سياست په عملي کولو کې د افغانستان ښه جغرافيايي موقعيت رول لوبولی دی. **دويم**، له سيمه‌ييزو هېوادونو سره د افغانستان د اړيکو د ښه والي يو لامل د افغانستان جغرافيايي موقعيت دی، ځکه د جنوبي اسيا هېوادونه غواړي د افغانستان له لارې مرکزي اسيا سره ونښلي، چين غواړي چې افغانستان د يو کمربند يوې لارې پروژې غړی شي او د افغانستان له لارې منځنۍ ختيځ سره وصل شي. د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره اړتيا ده چې اسلامي امارت سره اړيکې ښې کړي او له همدې امله د سيمې د هېوادونو او اسلامي امارت اړيکې ښې

دي. **درېیم**، پاکستان اړتیا لري چې د افغانستان له لارې له یوې خوا د مرکزي اسیا مارکیټ ته لاسرسی ولري او له بلې خوا د مرکزي اسیا انرژي خپل هېواد ته انتقال کړي، اسلامي امارت د پاکستان همدغې اړتیا ته په کتو د دغه هېواد په مقابل کې له اقتصادي پلوه سخته بهرنۍ پالیسي تعقیبوي، چې په دې وروستیو کې له پاکستان سره د سوداګرۍ پرېکون د همدا ډول بهرنۍ پالیسۍ ښه بېلګه ده. **څلورم**، د ایکو سیمه‌ییز سازمان په دې وروستیو کې د افغانستان غړیتوب بېرته فعال کړ او په خپله اوولسمه ناسته کې، چې د ۲۰۲۵ز. کال د جولای پر ۴مه په اذربایجان کې وشوه، اسلامي امارت ته د ګډون بلنه ورکړه (Economic analysts, 2025). همدارنګه د ۲۰۲۵ز. کال د نوامبر پر ۲۸مه د دې سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو په ۲۹مه غونډه کې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي په انلاین بڼه ګډون وکړ. د دې سازمان بنسټیزې موخې اقتصادي دي او د افغانستان د ښه جغرافیایي موقعیت له امله د دې سازمان غړي هېوادونه اړ شول چې د افغانستان غړیتوب بېرته فعاله او له لارې یې د سیمه‌ییز اتصال او نورې اقتصادي موخې تعقیب کړي.

**۴,۲. د افغانستان طبیعي سرچینې او د اسلامي امارت پر بهرني سیاست یې اغېزې**

د څېړنو پر بنسټ افغانستان نږدې درې ټریلیونه ډالره طبیعي سرچینې لري، چې په دې کې ګاز، تېل، ډبرو سکاره، مرمر، سره زر، مس، کرومایټ، کېرولایت، برایت، سلفر، سرب، اوسپنه، مالګه، قیمتي او نیمه‌قیمتي ډبرې، لیتیم او د ساختماني چارو ډبرې شاملې دي (Yasir Rashid, 2022). عینک د مسو کان او د بامیانو حاجیګک د اوسپنې زېرمه به تر ۲۰۳۱ ز. کال پورې په اوسط ډول ۹۰۰ میلیونه ډالره ارزښت ولري. همدارنګه لیتیم هم د مهمو طبیعي سرچینو څخه ګڼل کېږي، سره له دې چې په دې اړه کره معلومات نشته، خو اټکل کېږي چې افغانستان د لیتیمو تر ټولو سترې زېرمې لري، چې د جنوبي امریکا له بولیویا وروسته دویم ځای لري. د لیتیمو سترې سرچینې

د غزني په جنوبي سیمو کې موقعیت لري (Yasir Rashid, 2022).

د افغانستان دا ډول طبیعي سرچینې او اقتصادي ظرفیت هم د اسلامي امارت پر بهرني سیاست اغېزه لري. اسلامي امارت د همدې ظرفیت پر بنسټ اقتصاد محوره بهرنی سیاست اعلان کړی او د سیمې له هېوادونو سره یې اړیکې ټینګې کړې دي. د افغانستان همدې طبیعي سرچینو د اسلامي امارت سیاسي انزوا په کموالي کې هم رول لوبولی دی. اسلامي امارت یوازې په ۲۰۲۴ز. کال کې بهرنیو او داخلي شرکتونو سره د طبیعي سرچینو په برخه کې ۱۸۳ پروژې لاسلیک کړې دي. په دې کې مهم یې په لاندې ډول دي:

**الف-** د غوریان د اوسپنې کان: دا پروژه له ترکیې، بریتانیې او ایراني شرکتونو سره لاسلیک شوې چې ۴,۸ میلیارده ډالر ارزښت لري؛

**ب-** د جبل سراج د سېمنټو پروژه: په دې برخه کې قطر او افغانستان ګډه پانګونه کړې چې ارزښت یې ۲۲۰ میلیونه ډالر دی؛

**ج-** د تخار د سرو زرو کان: د ا پروژه یو چینایي شرکت ته ورکړل شوې چې ارزښت یې ۳۱۰ میلیونه ډالر دی؛

**د-** د مس عېنکو دویم کان: دا پروژه هم چینایانو ته ورکړل شوې چې ۴۱۱ میلیونه ډالره ارزښت لري (Shayan, 2024)؛

**هـ-** د امو په حوزه کې د تېلو استخراج ۲۵ کلن تړون: د ۲۰۲۳ز.کال په جنورۍ میاشت کې یو چینایي شرکت[1] له افغانستان اسلامي امارت سره د امو په حوزه کې د ۴۵۰ میلیونه ډالرو په ارزښت د تېلو د استخراج ۲۵ کلن قرارداد لاسلیک کړ. که څه هم دغه قرارداد بیا د ۲۰۲۵ کال نیمایي کې بېرته د اسلامي امارت له لوري لغوه اعلان شو. په دغه قرارداد کې افغانستان ۲۰ سلنه برخه لرله چې په راتلونکي کې باید ۷۵ سلنې ته رسېدلې وی؛

[1]. China Petroleum Economics and Information Research Center (CPEIC)

**و-** همدارنگه د چین گوچین[1] شرکت غواړي چې د لیتیمو په برخه کې ۱۰ میلیارده ډالره پانگونه وکړي، چې له لارې به یې په مستقیم ډول یو لک او شل زره او په غیرمستقیم ډول نږدې یو میلیون دندې پیدا شي (The Economic Times, 2023).

د دې ترځنگ یوازې په ۲۰۲۳ز. کال کې اسلامي امارت چینایي او نورو بهرنیو شرکتونو سره د ۶,۵ میلیارده ډالرو په ارزښت اووه تړونونه لاسلیک کړي (Bhardwaj, 2025). د دې ترځنگ اسلامي امارت په کلني ډول له طبیعي سرچینو څخه **۲۴,۲** میلیارده افغانۍ عاید لاسته راوړي (Trading Economics, 2025).

لنډه دا چې د افغانستان طبیعي سرچینې او اقتصادي ظرفیت د اسلامي امارت پر بهرني سیاست اغېزه کړې او اسلامي امارت یې له لارې د سیمې له هېوادونو سره اړیکې ټینگې کړي، سیاسي انزوا ورسره کمه شوې او داخلي اقتصادي وضعیت ورسره ښه شوی دی.

### ۴,۳. د اسلامي امارت پر بهرني سیاست د عامه افکارو اغېزې

عامه افکار له ولس څخه سرچینه اخلي او پر داخلي او بهرني سیاست د اغېزو قوي وسیله ده. هغه حکومتونه چې ولس ته حساب ورکوونکي او د ولس پر وړاندې ځان ځواب‌ویونکی گڼي، هغوی تل عامه افکارو ته تسلمیږي او د هغو له ارزونې وروسته هغه مني. اسلامي امارت هڅه کوي چې د ولس رضایت په پام کې ونیسي او ولس ته د خپلو کړنو څخه حساب ورکړي. عامه افکار هم د اسلامي امارت پر بهرني سیاست اغېزه لري، چې ښه بېلگه یې په دې ورستیو کې د پاکستان په اړه د اسلامي امارت بهرنی سیاست دی. په افغانستان کې عامه افکار د پاکستان خلاف دي. په رسنیو په ځانگړي ډول ټولنیزو رسنیو کې پر کابل د پاکستان برید ته ولس سخت غبرگون وښوده او دا یې د افغانستان پر خپلواکۍ او ځمکنۍ مستقیم برید وگاڼه، اسلامي امارت له دغو عامه افکارو څخه په اغېزمنېدو سره د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې پر پاکستان غچ اخیستونکي بریدونه وکړل

[1]. Gochin

چې له امله یې له پاکستان سره اړیکې ترینګلې شوې. له دې جګړې وروسته عامه افکار د اسلامي امارت پر ملاتړ راخرګند شول او دې کړنې د پاکستان په اړه د اسلامي امارت بهرنی سیاست نور هم اغېزمن کړ او پالیسي نوره هم جدي شوه او همدا لامل دی چې لا تراوسه پورې د دواړو هېوادونو ترمنځ دروازې تړلې پاتې دي.

## ۴,۴. د اسلامي امارت پر بهرني سیاست د نړیوال نظام، کډوالۍ او ناڅاپي ستراتیژیکو پېښو اغېزې

کله چې د ۲۰۲۱ز.کال په اګست کې اسلامي امارت بیاځلې پر افغانستان واکمن شو، ځینو پاکستاني پالیسي جوړوونکو فکر کاوه چې په افغانستان کې د اسلامي امارت بریا په دغه هېواد کې د پاکستان د بریا په معنا ده. د پاکستان لومړي وزیر عمران خان وویل: د افغانستان خلکو د غلامۍ زولنې ماتې کړې (Raz, 2023). همدارنګه په افغانستان کې د اسلامي امارت راتګ یې بریا وګڼله (Findlay, 2021). د دې ترڅنګ دا چې اسلامي امارت د جمهوریت پرمهال له پاکستان سره ښې اړیکې درلودې، نو داسې فکر کېده چې د واکمنۍ پرمهال به هم دواړه هېوادونه سره نږدې اړیکې ولري؛ خو ځینو بهرنیو لاملونو د اسلامي امارت پر بهرني سیاست اغېزه وکړه او له پاکستان سره یې اړیکې ترینګلې شوې. د بېلګې په ډول: کډوالي لومړنی هغه بهرنی لامل دی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ یې اړیکې خرابې کړې. پاکستان د افغان کډوالو موضوع امنیتي کړه او د اجباري ایستلو لامل یې د پاکستان په امنیتي پېښو کې د کډوالو لاس لرل وښودل (Swaminathan, 2023). له همدې امله د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر پر درېیمه پاکستان اعلان وکړ چې ټول ناقانونه افغان کډوال به د اکتوبر میاشتې تر پای پورې خپل هېواد ته ستنوي (Hussain, 2023). بالاخره په بېلابېلو مرحلو کې افغان کډوال په اجباري توګه وایستل شول او دا چاره یې پر اسلامي امارت د فشار د وسیلې په توګه وکاروله. د دې ترڅنګ د ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر پر ۹مه پاکستان پر کابل برید وکړ (Hussain, 2025) او دا یوه

ناڅاپي پېښه وه چې اسلامي امارت يې غبرگون ته اړ کړ او د ډيورنډ پر کرښه يې پر پاکستاني پوستو بريدونه وکړل او ۵۸ پاکستاني پوځيان يې ووژل (Mubariz, 2025). دې ناڅاپي پېښې هم اړيکې خرابې کړې. همدارنگه دا چې نړيوال نظام کې انارشي ده، د نړيوال نظام دغه ډول هم اسلامي امارت اړ کړ چې د خپل ځان څخه خپله دفاع وکړي او پر پاکستان بريد وکړي. لنډه دا چې د اسلامي امارت له بيا واکمنۍ وروسته په اوايلو کې د پاکستان او افغانستان اړيکې ښې وې، خو د نړيوال نظام انارشيک حالت، د کډوالو اجباري ايستل او ناڅاپي پېښه چې پر کابل بريد و، د اسلامي امارت پر بهرني سياست اغېزه وکړه او له پاکستان سره يې جگړې ته مخه کړه.

**۵. پایله**

پر بهرني سياست اغېز لرونکي لاملونه په دوو لويو برخو وېشل کېږي، يو يې داخلي لاملونه دي او بل يې بهرني. په داخلي لاملونو کې د خاورې پراخوالی، د نفوس زياتوالی او کموالی، د يوه هېواد جغرافيايي موقعيت، طبيعي سرچينې، اقتصادي ظرفيت او پرمختگ، عامه افکار او د رهبر شخصيت او سلوک شامل دي. په بهرنيو لاملونو کې د نړيوال نظام انارشيک ډول، نړيوال حقوق، نړيوال سازمانونه، کډوالي، ناڅاپي ستراتيژيکې پېښې او نړيوال ايتلافونه شامل دي.

د افغانستان غوره جغرافيايي موقعيت او پراخو طبيعي سرچينو د اسلامي امارت پر بهرني سياست اغېزه کړې ده. اسلامي امارت له خپل جغرافيايي موقعيت او طبيعي سرچينو څخه په گټه اخيستنه اقتصاد محوره بهرنی سياست اختيار کړی او له لارې يې د سيمې له هېوادونو سره اړيکې ټينگې کړې دي، چې دې اړيکو له يوې خوا د اسلامي امارت د سياسي انزوا په کمولو کې مرسته کړې او له بلې خوا يې د افغانستان پر اقتصادي وضعيت مثبته اغېزه کړې ده. د دې ترڅنگ اسلامي امارت ځان ولس ته حساب ورکوونکی گڼي او له همدې امله عامه افکارو هم د اسلامي امارت پر بهرني سياست اغېزه کړې ده چې

ښه بېلګه يې په دې وروستيو کې د پاکستان پر وړاندې د جدي بهرني سياست غوره کول دي. همدارنګه په بهرنيو لاملونو کې نړيوال نظام، کډوالۍ او ناڅاپي ستراتيژيکو پېښو رامنځته کېدو هم د اسلامي امارت پر بهرني سياست اغېزه کړې ده.

**٦. وړانديزونه**

**١-** اسلامي امارت ته وړانديز کېږي چې مدون بهرنی سياست دې رامنځته او په هغې کې دې د بهرني سياست ټول اصول او کړنلارې مشخصې کړي.

٢-اسلامي امارت دې په بهرني سياست کې د تصميم نيونې چاپيريال دقيق مطالعه او ارزيابي کړي، ترڅو وتوانېږي چې د پرېکړو پرمهال فشار، وخت او خطر مديريت کړای شي.

٣- بهرنی سياست د ملي ګټو په چوکاټ کې جوړېږي، نو وړانديز کېږي چې اسلامي امارت دې د ملي ګټو مشخص چوکاټ او تعريف رامنځته کړي.

۴- بهرنی سياست تل له داخلي سياست څخه اغېزمنېږي او څومره چې داخلي سياست پياوړی او ولسي رضايت موجود وي په هماغه کچه بهرنی سياست پياوړی او عملي کول يې اسانه وي، نو وړانديز کېږي چې اسلامي امارت دې د داخلي سياست د تطبيق پرمهال عامه افکار په نظر کې ونيسي.

**مأخذونه**


١- رحيمي، سردار محمد. (١٣٩٦ هـ.ل.). ژيوپلتيک افغانستان در قرن بيستم، نشر واژه.

٢- طارق، محمد اعظم. (١٣٩٩ هـ.ل.). «موقعيت جغرافيايی افغانستان از چشم انداز تئوری های جيوپوليتيکی»، مجله سيمه‌ييز مطالعات، مرکز مطالعات منطقه ای اکادمی علوم افغانستان، ربع سوم، شماره مسلسل ۵۸.

1. Alesina, A. (2003). The size of countries: Does it matter? *Journal of the European Economic Association*. https://dash.harvard.edu/server/api/core/bitstreams/7312037c-5c47-6bd4-e053-0100007fdf3b/content

2. Balkhi, M. (2017). The determinants of Afghanistan's foreign policy. *Himalayan and Central Asian Studies*, *21*(2–3). http://www.himalayanresearch.org/pdf/Vol21Nos.%202-3,%20April-September-2017.pdf#page=33
3. Bhardwaj, A. (2025). Mining in Afghanistan by China. *Foreign Affairs Forum*. https://www.faf.ae/home/2025/1/10/mining-in-afganisthan-by-china
4. Biswas, A. (2025). Determinants of foreign policy: 10 key factors that shape global relations. *School of Political Science*. https://schoolofpoliticalscience.com/determinants-of-foreign-policy/
5. Bojang, A. S. (2018). The study of foreign policy in international relations. *Journal of Political Sciences & Public Affairs*, *3*(4). https://www.longdom.org/open-access-pdfs/the-study-of-foreign-policy-in-international-relations-2332-0761-1000337.pdf
6. Bueno de Mesquita, B. (2003). *Principles of international politics: People's power, preferences, and perceptions* (2nd ed.). CQ Press.
7. Economic analysts. (2025). Afghanistan will be a potential active member of the Economic Cooperation Organization (ECO) and the energy transport corridor in the region. *Ava Press*. https://www.avapress.com/en/news/321046/afghanistan-will-be-a-potential-active-member-of-the-economic-cooperation-organization-eco-_and-energy-transport-corridor-in-region
8. Findlay, S. (2021, September 30). A win for Pakistan': Imran Khan gambles on Taliban ties. *Financial Times*. https://www.ft.com/content/257853d9-acb6-432b-92d4-a1b45335a388
9. Gaddis, J. L. (2002). On strategic surprise. *Hoover Digest*. http://www.hoover.org/publications/digest/3437371.html
10. Hussain, A. (2023, November 3). 'Why am I being sent back?' Hurt, anger for Afghans pushed out by Pakistan. *Al Jazeera*. https://www.aljazeera.com/features/2023/11/3/why-am-i-being-sent-back-hurt-anger-for-afghans-pushed-out-by-pakistan
11. Hussain, A. (2023, October 10). Taliban blame Pakistan after explosions in Kabul, amid outreach to India. *Al Jazeera*. https://www.aljazeera.com/news/2025/10/10/explosions-hit-kabul-as-taliban-make-diplomatic-push-to-india
12. Javaid, U., & Rashid, A. (2015). Oil and gas potentials of Central Asian republics and relations with Pakistan. *South Asian Studies*, *30*(1).

http://journals.pu.edu.pk/journals/index.php/IJSAS/article/viewFile/2988/1201

13. Khara, N. K. (2018). Determinants of foreign policy: A global perspective. *International Journal of Research and Analytical Reviews*, *5*(3). https://ijrar.org/papers/IJRAR1903915.pdf

14. Khan, H. (2017, April). Pakistan's economic interests in Central Asia: Prospects and challenges in regional perspective. *ResearchGate*. https://www.researchgate.net/publication/336665570_Pakistan's_Economic_Interests_In_Central_Asia_Prospects_And_Challenges_In_Regional_Perspective

15. Lee, S. (2025, May 25). The impact of domestic politics on foreign policy. *Number Analytics*. https://www.numberanalytics.com/blog/impact-domestic-politics-foreign-policy

16. Mearsheimer, J. J. (2007). *International relations theories: Discipline and diversity*. Commack Schools. https://www.commackschools.org/Downloads/8_mearsheimer-_structural_realism.pdf

17. Mintz, A., & DeRouen, K. (2010). *Understanding foreign policy decision making*. Cambridge University Press. https://www.cambridge.org/af/universitypress/subjects/politics-international-relations/international-relations-and-international-organisations/understanding-foreign-policy-decision-making

18. Mubariz, Abdul Saboor. (2025). Rising tensions between Afghanistan and Pakistan: The US and Indian factor. *The South Asian Times*. https://thesouthasiantimes.info/OP-ED/news/rising-tensions-between-afghanistan-and-pakistan-the-us-and-indian-factor/6204

19. Noorzi, M. Y. (2021, January). *Afghanistan: Regional connectivity hub*. ResearchGate. https://www.researchgate.net/publication/357268430_Afghanistan_Regional_Connectivity_Hub

20. Raz, I. G. (2023, May 31). Against all expectations: Afghanistan–Pakistan relations after the American withdrawal. *Electronic Journal of Social and Strategic Studies*. https://www.ejsss.net.in/uploads/172/14621_pdf.pdf

21. Rashid, Y. (2022). Afghanistan's economic potential. *Center for Iranian Studies*. https://iramcenter.org/en/afghanistans-economic-potential_en-690

22. Shayan, Y. (2024). Taliban awards contracts for 183 mining projects to local, foreign companies in one year. *Amu TV*. https://amu.tv/125122/

23. Swaminathan, S. (2023, November 2). Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory? *WIONews*. https://www.wionews.com/south-asia/explained-why-is-pakistan-asking-17-million-afghan-nationals-to-leave-its-territory-654025

24. Teitelbaum, M. S. (1984). Immigration, refugees, and foreign policy. *Massachusetts Institute of Technology & World Peace Foundation*. https://www.academia.edu/95268911/Immigration_refugees_and_foreign_policy

25. The Economic Times. (2023). Chin

26. a eyes Afghanistan's lithium reserves, offers to invest USD 10 billion. https://economictimes.indiatimes.com/news/international/world-news/china-eyes-afghanistans-lithium-reserves-offers-to-invest-usd-10-billion/articleshow/99521732.cms

27. Trading Economics. (2025). Afghanistan GDP from mining. https://tradingeconomics.com/afghanistan/gdp-from-mining